# د امن ځای نشتوالی

# په افغانستان کې پر ملکیانو د اورپکو بریدونه

**لنډیز**

د ۲۰۱۶ کال له پیله ترهګرو په ناڅاپي ډول پر کابل او نورو لویو ښارونو بریدونه ډېر کړي دي، پەدې بریدونو کې زرګونه ملکي خلکو ته مرګ‌ژوبله اوښتي ده. ځانمرګي بریدونه د ورو او لویو موټر بمونو په ګډون د دې مرګ‌ژوبلو درېیمه برخه جوړوي. سلګونه ملکیانو چې په ورځنیو فعالیتونو بوخت وو (لارویان؛ د هټیو او نورو ځایونو کارکوونکوي؛ هغوی چې د کور لپاره په خوړو او سودا اخیستلو پسي راوتلي وو او یا یې په مسجد کې عبادت کوی) ناڅاپي او وحشتناکه تاوتریخوالی یې تجربه کړ.

د وژل شویو کسانو کورنۍ له سخت درد او کړاو سره لاس او ګرېوان دي، ډېری وژل شوي کسان د کورنیو چلونکي او ډوډۍ راوړونکي وي؛ هغوی چې له بریدونو ژوندي وزي، تر ډېره وخته له فزیکي او رواني ټپونو څخه ځورېږي. ګڼ شمېر کسان د طبي او رواني درملنې او نورو مرستو په برخه کې له ګڼو ستونزو سره مخ دي.

د دې راپور ډېره برخه په ۲۰۱۷ او د ۲۰۱۸ کال په لومړیو کې په کابل، جلال اباد او هرات کې د بشري حقونو د څار اداري د مرکو پر بنسټ جوړ شوې دی، په راپور کې د هغو بریدونو جزیات هم وړاندې شوي چې د ۲۰۱۶ کال له وروستیو میاشتو راهیسې طالبانو او نورو ترهګرو ډلو تر سره کړي دي، تر څنګ یې پر کورنیو او ټولنو د دې بریدونو ناوړه اغېزې هم په ګوته شوې دي. دا راپور ترهګرو ډلو او حکومت ته چې قربانیانو ته د ملاتړ برابرولو مسوولیت په غاړه لري، سپارښتنو پای ته رسېږي.

***

په تېرو دوه کلونو کې طالبانو په لویو ښارونو کې بریدونو ته زور ورکړی دی، که څه هم په ښکاره دوی د افغانستان حکومت او د بهرنیو ځواکونو تاسیسات په نښه کوي، له داسې وسایلو کار اخلي چې له توپیر پرته ډلەییز تلفات رامنځته کوي. دې بریدونو سلګونه ملکي وګړي وژلي دي. د ۲۰۱۸ کال په جنوري میاشت کې طالبانو په کابل کې د دوه داسې لویو بریدونو مسوولیت پر غاړه واخیست چې لږ تر لږه ۱۲۵ کسان یې ووژل.

هغه بریدونه چې په اسلامي دولت پورې اړوند د خراسان ولایت ډلې له لوري شوي دي، ملکي تاسیسات یې په نښه کړي دي؛ په دې بریدونو کې ګڼ شمېر شیعه مسجدونه او کلتوري مرکزونه هم شامل دي. د دې بریدونو فرقەیي ماهیت د افغانستان په وسلەواله جګړه کې د یوه نوي ناورین پیل دی.

د ۲۰۱۷ کال په مې میاشت کې د یوې لارۍ بم چاودنه هغه لوی برید وو چې ساری یې په هیڅ یوې کورنۍ جګړه کې نەدی لیدل شوی، پەدې برید کې تر ۱۵۰ ډېر کسان ووژل شول او سلګونه کسان ټپیان شول. د چاودېدونکو موادو اندازې او د چاودنې موقعیت، چې د کابل د مرکزي برخې په یوه له ګڼەګوڼې ډکه ترافیکي سیمه کې وشوه، پر خپل امنیت یې د ګڼ شمېر افغانانو باور له منځه یووړ، دا وېره بیا د ورپسې بریدونو له امله لا ډېره شوه. هېڅ یوې ډلې د دې چاودنې مسوولیت پر غاړه نەدی اخیستی.

هغه احصایه چې د یوناما دفتر چمتو کړې وه، ښیي چې د ځانمرګو بریدونو او څو ګونه بریدونو له امله په ۲۰۱۷ کال کې د ملکیانو د مرګ ژوبلې کچه تر بل هر وخت ډېره لوړه وه، له ۲۰۰۹ کال راهیسې د دې لوړوالی سارې نه لیدل کېږي.

## کورنیو او ټولنو ته دوامداره زیان

په دې بریدونو کې د ملکیانو زیان تر وژل کېدو او ژوبل کېدو ډېر زیات دی. له بشري حقونو څار اداري سره په مرکو کې د هغو خلکو چې په ترهګریزو بریدونو کې وژل شوي وو، نږدې خپلوانو او کورنیو ته د دوی د مرګ ژوبلې له امله اوښتو منفي اغېزو په اړه خبرې وکړې: د دوی خپلوانو ته چې د دې تاوتریخوالي شاهدان وو، اوښتې رواني صدمه دا وه چې ځینو یې روغتونونه او د مړو خوني لټولي چې ګوندې د خپلو خپلوانو د جسدونو ټوټې پیدا کړي؛ پر کورنیو یې ویجاړونکې منفي اغېزې دا وې چې دوی خپل ډوډۍ راوړونکی له لاسه ورکړی دی. ټولنیزې منفي اغېزې یې په ځانګړې توګه د هغو ښځو لپاره دي چې کونډې شوي دي او د ملاتړ لپاره د خپل مېړه د کورنۍ نورو غړو ته محتاجه پاتې شوې دي او له دې محدودیت سره مخ دي چې چېرته کار او ژوند وکړي؛ پر ماشومانو یې اغېز دا دی چې دوی د ښوونځي پرېښودلو ته اړ کېږي، دا کار یا له دې کبله کوي چې کورنۍ یې نور مصارف نهشي پوره کولای او یا یې هم لهدې کبله کوي چې ماشوم باید کار وکړي، تر څو کورنۍ ته یوه مړۍ ډوډۍ راوړي. هر یو وژل شوی کس د ملاتړ د له منځه تللو، عواطفو، ټولنیز امنیت او د عوایدو له کبله د خپلې کورنۍ پر غړو لکه مېرمن، ماشومانو، مور او پلار او نورو خپلوانو ناوړه اغېزې ښندي.

ټپیان هم له ګڼو ستونزو سره مخ کېږي، ډېری یې اوس هم فزیکي روغتیا ته اړتیا لري او د لوړو مصارفو درملنه چې د افغانستان په روغتونونو کې له معمولي درملنې څخه لوړه او ډېره وي، پوره کول یې هغوی ته ډېر له ستونزو ډک او له زغمه وتلی کار وي. هغوی چې له سختو فزیکي ټپونو او معیوبیت سره مخ شوي دي، د بدن ځینې غړي یې له حرکته لوېدلي دي، دوی کار نهشي کولای، تر څو له خپلې کورنۍ سره مرسته وکړي او یا ښوونځي ته ولاړ شي. په افغانستان کې د معیوبینو لپاره د ملاتړ خورا محدود خدمتونه موجود دي، له همدې کبله ډېری وختونه د کورنۍ نورو غړو ته محتاج پاتې کېږي.

له ګڼو هغو خلکو سره چې د بشري حقونو د څار اداري مرکې کړې دي وایي چې د دې ډول بریدونو لیدنه او له هغو روغ وتل، هغوی ته سخته عاطفي او رواني صدمه رسوي. تېرو ۴۰ کلونو اوږدو جګړو، ټولنیزې نارامۍ او رواني روغتیا ته نه لاسرسی او یا هم محدودیت لاسرسي د ګڼو افغانانو پر ذهني روغتیا منفي اغېز کړی دی. د تېرو دوه کلونو پر مهال د ترهګرو بریدونو چې سخته ناامني، بېباوري، تاوتریخوالی او اقتصادي ستونزې یې رامنځته کړې دي، دا صدمه او رواني فشار نور هم ډېر کړی دی.

که څه هم پهدې برخه کې کومه احصایه نشته، خو د بشري حقونو د څار اداري پلټنې ښیي چې د وژل شویو او ټپیانو یوه لویه برخه بېوزلې خلک دي. د بېلګې په ډول د ۲۰۱۸ کال د جنوري د ۲۷مې نېټې د کابل په امبولانس چاودنې کې د سړک پر سر ماشومان، هغوی چې په لاسونو کې د خرڅلاو توکي ګرځوي او غرفه لرونکي دکانداران وژل شوي دي. د دې راپور چمتو کولو لپاره چې کله د بریدونو له ټپیانو سره مرکې وشوې، د هغوی له ډلې دوه تنه د مسجد ساتونکي، د واده د سالون ساتونکي، یو خیاط، یو نانوای او یو ټکسي چلونکی شامل وو. دوی ټولو د هغو سختو مالي ستونزو په اړه خبرې وکړې چې په چاودنه کې یې له ټپي کېدو وروسته ګاللې دي.

## له قربانیانو سره د حکومت مرستې

که څه هم د افغانستان حکومت هغو کسانو ته چې په بریدونو کې ټپیان شوي دي او یا یې هم د کورنۍ غړي له لاسه ورکړي دي، د مالي مرستو وړاندیز کوي، خو له ګڼو هغو کسانو سره چې موږ مرکې وکړې وایي چې که څه هم د

مرستو ژمنې ورسره شوې دي، خو تر اوسه یې له دولت څخه هیڅ‌ډول مرسته نه‌ده تر لاسه کړې. نورو ویل چې د حکومت د مرستې د تر لاسه کولو پروسه خورا ستونزمنه او له فساده ډکه ده، ځینې په کې مرسته تر لاسه کولای شي، خو نور یې نه‌شي کولای.

په‌داسې حال کې چې بریدونه ډېر شوي دي، خو د اغېزمن شویو کسانو مخ په ډېرېدو اړتیاوو پر وړاندې غیر دولتي خدمات په نشت حساب دي. نړدې ټولو هغو کسانو سره چې موږ خبرې کړې دي، شکایت یې دا وو چې هیڅ یوه چارواکي یې پوښتنه نه ده کړې، تر څو د دوی له حاله، فوري اړتیاوو او اوږدمهاله طبي درملنې پوښتنه وکړي. په‌داسې حال کې چې د برید د مرتکبینو پر وړاندې یې سخته دښمني ښودله، دوی داسې احساس هم کاوه چې د دولت او نړیوالې ټولنې له‌خوا هېر شوي دي. له هر یوه سره چې موږ مرکه کړې، وایې چې له وېرې ډک ژوند لري، داسې نه چې نور خپلوان یې په راتلونکو بریدونو کې ووژل شي. دا بې‌باوري چې راتلونکې چاودنه به کله او چېرته پېښیږي، اندېښنې او رواني فشارونه لا ډېر کړي دي.

**سپارښتني**

**ټولو ترهګرو ځواکونو ته**

- د جګړې قوانينو په نظر کې نيولو سره؛ پر ملکيانو او ملکي تاسيساتو هر ډول بريدونو ته بايد پای ټکی کېښودل شي. وسلهوال ځواکونه يوازې نظامي تاسيسات، دښمن سرتېري او يا هغه ملکيان په نښه کولای شي چې په دښمنۍ کې مستقيمه برخه ولري. د حکومت ملکي مامورين د نورو ملکيانو په څېر له بريدونو معاف دي. ملکي تاسيسات لکه ښوونځي، روغتونونه، عبادتځايونه او کورونه چې تر څو د نظامي اهدافو لپاره کارول شوي نهوي، بايد په نښه نه شي.

- ټولو هغو بريدونو ته بايد د پای ټکی کېښودل شي چې د ملکي او نظامي تر منځ يا توپير نه کوي او يا توپير په کې ناشونی وي او يا دا چې ملکيانو او ملکي تاسيساتو ته په کې سخت زيان اوړي. پر ځواکونو تر بريد کولو وړاندې بايد ټول تدابير ونيول شي چې ملکيانو ته زيان تر اعظمي کچې را ټيټ شي.

- هغه خاينانه بريدونه بايد پای ته ورسېږي چې په هغو کې بريدګر د بريد کولو لپاره د باور وړ ملکي تاسيساتو او شرايطو څخه ګټه اخلي، مثلا په امبولانسونو کې د چاودېدونکو موادو ځای پر ځای کول او کارول.

- هغو قوماندانانو ته سزا ورکړئ چې له جنګي قوانينو څخه د سرغړونې امر او يا مسووليت پر غاړه لري.

**د افغانستان حکومت ته**

- حکومت بايد اوسنی ځانګړی سيستم د قوانينو او مقرراتو له لارې رسمي کړي، د اورپکو په بريدونو کې د ټپي شويو کسانو او د هغوی چې په بريدونو کې يې د کورنۍ غړي له لاسه ورکړي وي مرستې برابرې کړي. دا مرستې بايد يوازې د لويو بريدونو قربانيانو او يا د هغو کورنيو ته ځانګړې نه وي، بايد د هر بريد قربانيانو ته ورکړل شي. بايد د پوهاوي داسې کمپاين په لاره واچوي چې له مالي مرستو او نورو اړوندو لاسنيوي د تر لاسه کولو په برخه کې عام وګړي له خپل طرزالعمل څخه خبر کړي. مرستې بايد په مساويانه ډول ووېشل شي او د فساد او تبعيض په برخه کې هر ډول شکايتونه بايد فوراً وڅېړل شي.

- حکومت بايد د هغو وګړو لپاره چې د اورپکو، حکومت او يا ايتلافي پوځونو له بريدونو څخه روغ وتلي او له رواني ستونزو سره مخ دي، داسې اسانتياوې رامنځته کړي چې قربانيانو ته مشورې او نور ملاتړ په کې شامل وي.

**ملګرو ملتونو ته**

- ملګرې ملتونه دې له ترورېزم سره د مبارزې دفتر له لارې افغانستان ته تخنيکي همکاري برابره کړي، تر څو د بريدونو د قربانيانو لپاره د جبران يوه هر اړخيزه پاليسي جوړه کړي.

**د افغانستان نړيوالو مرستهکوونکو ته**

- له داسې پروګرامونو سره مرستې وکړي چې د ټولو ښکېلو اړخونو له لوري بريدونو کې قرباني شويو ملکي کسانو لپاره مالي او نورې مرستې چمتو کړي. د افغانستان د ټولو وګړو لپاره د رواني روغتيا د درملنې په موخه پراخې هلې ځلې پيل او په ضمن کې يې رواني خدمات برابر کړي.